مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۵/۳۰

# د بیخودۍ عالم

نه پو هیږم چي دا تحریر د چا دی
چي په خوله راځي څه تقریر د چا دی

بل عالم ښکاري راته ، بیخودۍ کې
د خپل حاله وتل، تد بیر د چا دی

چي هر حرف می وځي مستانه، له خولي
نه پو هیږم چي دا تا ثیر د چا دی

چی هر لمحي وي ورته زړه په سجده
په محراب د ضمیر تصویر د چا دی

په عقل و پوه چي نازیدو نشو پوه
له بنیاده جهان ، تعمیر د چادی

چي ماتم دار وي ټول عالم د یو بل
په دي ماتم سرای کي ویر د چا دی

ځیني تل غواړي بد خواهي د عالم
نه پوهیږم چی دا تفسیر د چادی

تمام ژوند مي کړو دود مجمر د هستي
نه پوهیږم چی دا ،تقدیر د چا دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ